# بادام: د مستقيمو ونو توليد

ټېليفون: 977-758-0799 برېښناليك: **javid.hamidzada@rootsofpeace.org**

## مستقيمه (نيغه) وهه څه ده؟

نيغې ونې ډير بادام نيسي او محصول زياتوي



د بوزغلېښې ونې حاصلات زياتوي. عکس دان ايدواردس

## نيغې ونې څرګـه توليد کړو؟

وروسته د پيوند څخه د مستقيمو ونو د توليد لپاره دوه لاري موجودې دي.

1. **په موړې د ونې درول**
   - أ. وروسته د پيوند څخه د ونې ترڅنګ يو متر اوږد لرګـی ځای په ځای کړئ.
   - ب. ونه هر ۲۰سانتي متره وروسته د ودې سره يې سم د لرګـي سره وتړئ

2. **د لارښودونو پکارول**
   - أ. د هرې ليکې په پای کې يوه ستنه ودروئ
   - ب. د ونو د ودې سره سم د ونو په منځ کې مزی وځغلوئ چې ونې نيغې وساتي
   - ج. مزی هر ۲۰سانتي متره لرې ځاي په ځاي کړئ



3. **لرې کول**
   - أ. مخکې د نيالګـيو د ويستلو څخه ناروغې تخريب شوې، کمزورې يا بې ډوله ونې لرې کړئ

4. **په نښه کول**
   - أ. مخکې د ويستلو څخه هم پيوندي او هم اصلي ونې د رنګ په واسطه په‌نښه کړئ

5. **ويستل**
   - أ. ونه د ۴۰-۳۶سانتي مترو په ژوروالي سره راوباسئ
   - ب. ونه‌وښوروي چې د ريښو څخه يې خاوره لرې شي.

6. **په درجو ويشل**
   - أ. ونې د يو ډول والي او کيفيت په پام کې نيولو سره په درجو وويشئ
   - ب. ونې د پيوند شوې ناحيې د ۵سانتي متره پورته برخې د قطر په اساسي په اندازه کړئ
7. **بنډل کول اوټـک کـول**
   - أ. ونې د سايز په پام کې نيول سره سورټ کړئ، کمزورې ونې لرې او له منځه يوسئ.
   - ب. ونې په بنډلو باندې د ۵ يا ۱۰ ونو د قطر په نظر کې نيولو سره وويشئ.
   - ج. په هربنډل يوټـک وکـوئ چې ويې پيژنئ
8. **اوبه کـول**
   - أ. ريښې د ټکـې يا د لرګـې اوړو (د اره بوره) په واسطه مرطوبې وساتئ
   - ب. د لنډبل د تطبيق څخه پر ريښو ادامه ورکړئ، ريښې لنمجنې و ساتئ نه لمدې
9. **ذخيره کول**

   ونې هرڅومره ژر چې ممکن وې خرڅې ياکښېنوئ، که چيرې ونې ذخيره کيدو ته اړتيا لري، نو
   - أ. ونې په ۳۶-۳۲سانتي ګـراد تودوخه کې ذخيره او ريښې يې نمجنې وساتئ
   - o ونې د هغو نباتي موادو سره چې ايتايلين توليدوي مه ذخيره کوي (لکه مڼې ټانګ)

**د جان ډرايور، کورکي لوين او مارك په واسطه چمتو شوی، د ۱۳۸۷ کب مياشت**

دا خپرونه د اروپايي اتحاديې، دبډوالۍ د پرمختيا پروګـرام، د بادامو د صنعت د پرمختيا د پروژې په مالي مرسته، د سولې بنسټ د مؤسسې د ASIE/2007/135-504 قرار داد لاندې چمتو شوې. کابل‌ټېليفون 794677212 (0) 93+،
zach@rootsofpeace.org
ددې خپرونې د محتوې مسؤليت په بشپړه توګـه د کاليفورنيا د ډيوس پوهنتون په غاړه دی او په هيڅ صورت سره د اروپايي اتحاديې د نظر څرګـندويه نه ده.
د خپريدو حق © UC Regents Davis campus، 2009 ميلادي بټول حقوق خوندي دي.

د ډيرو معلوماتو لپاره د: www.rootsofpeace.org, http://ec.europa.eu/europeaid/index_en.htm, www.ip.ucdavis.edu مراجعه وشي